# اطلاعاتو ته د لاسرسي پر محدودیت د رسنیو کلک اعتراض

کابل، افغانستان
د سلواغې ۱۵، ۱۳۹۸

افغانستان په وروستیو کلونو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې شاتګ کړی دی. د دې لیک ملاتړې رسنۍ اطلاعاتو ته د لاسرسي د وضعیت د خرابیدو له اړخه خورا اندیښمنې دي.

له دې سره سره چې افغانستان د خبریالانو لپاره د خونړیو هیوادونو په کتار کې دی، د افغانستان رسنۍ د سیمې په کچه تر ټولو ازادې رسنۍ دي. خو په وروستیو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې نه پاملرنې او رامخې ته شویو خنډونو ، د ازادو رسنیو د فعالیت په ډګر کې شوی پرمختګ له ګواښ سره مخامخ کړی دی.

د افغانستان دولت «اطلاعاتو ته د لاسرسي حق» د قانون او ازادو رسنیو د ملاتړ په رابطه دوه ګونی چلند کوي. د رسنیو د ازادۍ له نړیوال ائتلاف سره د افغانستان د یو ځای کیدو له مراسمو په خپا ره  شوي انځور کې سانسور د دا وړ دوه ګوني چلند تازه بیلګه ده.

په دې برخه کې د دولت بې غورئ او دوه ګووني چلند ورو ورو عادي بڼه خپله کړې ده. تر دې چې اطلاعاتو ته د لاسرسي ستونزه اوس په ټولو دولتي ادارو کې لیدل کیږي، خو په دې مینځ کې ستره محکمه، لویه څارنوالي، ملي امنیت، د تدارکاتو ملي اداره، د ولسمشر دفتر، د بهرنیو چارو وزارت، د مالیې وزارت، د افغانستان بانک، د ملي دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د عامې روغتیا وزارت د خورا تر ټولو تړلو ادارو له ډلې دی.

موږ اطلاعاتو ته د لاسرسي د حق د خوندیتوب او له ازادو رسنیو د ملاتړ په برخه کې له دولت، نړیوالې ټولنې او د رسنیو له ملاتړو ټولنو د داسي رغنده ګامونو د پورته کولو غوښتونکي یوچې پر مټ یې د معلوماتو ازاد جریان، د بیان او رسنیو ازادي او د افغانستان د تاندې ولسواکۍ خوندیتوب یقیني شی.

۱. طلوع نیوز تلویزیون
۲. اریانا نیوز تلویزون
۳. شمشاد تلویزیون
٤. یک تلویزیون
۵. خورشید تلویزیون
٦. تمدن تلویزیون
۷. کابل نیوز تلویزیون
۸. زن تلویزیون
۹. نورین تلویزیون
۱۰. ژوندون تلویزیون
۱۱. ارزو تلویزیون
۱۲. میوند تلویزیون
۱۳. کلید راډیو
۱٤. سلام وطندار راډیو
۱۵. سپوږمۍ راډیو
۱٦. اطلاعات روز ورځپاڼه
۱۷. هشت صبح ورځپاڼه
۱۸. ویسا ورځپاڼه
۱۹. ماندګار ورځپاڼه
۲۰. صبح کابل ورځپاڼه
۲۱. اژانس خبري پژواک
۲۲. د افغان ښځو خبري اژانس
۲۳. خبرنامه
۲٤. هیواد تلویزیون ( کندهار)
۲۵. زما زادیو (کندهار)
۲٦. پیکان تلویزیون (بلخ)
۲۷. ازاد رادیو (بلخ)
۲۸. عصر تلویزیون (هرات)
۲۹. مژده رادیو (هرات)
۳۰. ځلا تلویزیون (ننګرهار)

**سکرتریت: ۰۰۹۳۷۸۸۰۷۲۸۵۲**